د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**علیم صدیق د ملګرو ملتونو د مرستی د پلاوی د ویاند د دفتر سرپرست او داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د اپریل ۲۸ نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** ستاسو ټولو سهار دې نیکمرغه وي. زما نوم علیم صدیق دی د یوناما د ویاند له دفتر څخه تاسو ته نننی مطبوعاتي کنفرانس ته هر کلی وایم. مخکی له هرڅه یوڅو لنډ معلومات درواندی کوو او ورسته د هغه به بیا ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایو.

## په کابل کې د ولسمشر حامد کرزی پر ضد د برید په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي وینا

زه په خورا سختو الفاظو کې هغه برید غندم چې نن په کابل کې د ولسمشر حامد کرزی پر ضد د کامیابی د لمانځلو په جشن کې پیښ شو.

د افغانستان د قانوني دولت او د افغان وګړو پر ضد دغه برید د منلو وړ نه دی. زه غواړم چې یو ځل بیا د ملګرو ملتونو ملاتړ د افغانستان د بیا ودانولو لپاره د قانوني دولتي ادارو له لارې په داسي توګه تایید کړم چې له دې لارې نه د افغانستان خورا زیانمنیدونکو خلکو اړتیاوې پوره کیږي او هم عدالت او هم امنیت منځ ته راوړي. زه په نړیواله ټولنه او افغان دولت غږ کوم چې دغو مرامونو ته د رسیدلو په لور خپلو ګډو هڅو ته په داسي توګه دوام ورکړي چې د دې ډول ناوړه بریدونو په وړاندې لکه چې نن پیښ شو هیڅ په شا تګ و نه کړي. زه د افغانستان ملي ځواکونو ته له دې امله مبارکي وایم چې په بیړه یې د دغه برید په وړاندې غبرګون وښود، د زیاتي مړيني مخنیوی یې وکړ او افغاني چارواکي او بهرني ډیپلوماتان چې په دغو مراسمو کې یې ګډون درلود وژغورل.

زه د وژل شویو کسانو کورنیو ته خپل غمرازی استوم او د پارلمان د ټپی شویو غړو لپاره چټکه روغتیا غواړم او ولسمشر کرزی او د هغه د حکومت سره خپله همدردي څرګندوم.

## د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی له شمالي امریکا څخه لیدنه کوي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی کای ایده په دې اوونی کې په شمالي امریکا کې دي. نن او سبا به د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی په واشنګټن ډی سی کې وی، چې هلته نوموړی د ولسمشر بوش او متحده ایالاتو له لوړ پوړو چارواکو سره لیدنه کوي. ځانګړی استازی به د چهار شنبې او پنجشنبې په ورځو کې په کاناډا کې وي، چې د هغه هیواد د بهرنیو چارو له وزیر مکسین برنیر او د دفاع د وزیر پیټر ګوردن مکی په ګډون د کاناډا د لوړ پوړو چاروکو سره و ویني. د جمعې په ورځ به په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په مقر کې وي، چې هلته به له عمومي منشي بانکي مون سره وګوري. د دغو لیدنو کتنو موخه دا ده، چې په جون د پاریس د کنفرانس د مخه د نړیوالو مشرانو ملاتړ تر لاسه شي.

## د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام په کندهار، هلمند، نیمروز او بغلان کې مرسته برابروي

د ملګرو ملتونو نړیواله خوراکي پروګرام (WFP) ۱۲۰۰ زیانمنیدونکو کورنیو ته په کندهار کې او ۵۰۰ کورنیو ته په هلمند کې خواړه ویشلي دي، چې له دغو کورنیو سره د خوراکي توکو په لوړیدونکو بیو سره په مقابله کولو کې مرسته وکړي. نړیوال خوراکي پروګرام تر دغه پروګرام لاندې په پام کې لري چې په ټولیزه توګه ۱۴۰۰۰ په کندهار اوو ۷۰۰۰ کورنیو سره په هلمند کې مرسته وکړي.

د اپریل پر ۲۴ د ۵۰۰ ټنه خوراکي توکو بار یو کاروان د نیمروز ولایت ته ورسید. له دغو خواړو څخه ۳۵۰ ټنه به د ډبلیو ایف پی د کار په مقابل کې خواړو تر پروګرام لاندې د چخانسور په ولسوالی کې و ویشل شي او ۱۵۰ ټنه بیسکټ به د زرنج او چخانسور په ولسوالیو کې د ښوونځی ماشومانو ته وویشل شي.

د بغلان په شمالي ولايت کې ۳۲۰۰ اوسيدونکي خواړه لاس ته راوړي او په عيني وخت کې د نړيوال خوراکي پروګرام په مرسته نوي مهارتونه زده کوي. ډبليو ايف پی خپل د روزنې په مقابل کې د خواړو تر پروګرام لاندي غنم، غوړي، مالګه او نخود ورکوي، چې په دغه پروګرام کې به د شغل روزنه، د سواد زده کړې کورسونه او د ښوونکو روزنه شامل دي کوم چې به د دولت له بيلا بيلو رياستونو سره تطبيق کړای شي.

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر (UNODC) د بدخشان ولايت لپاره د سرک جوړولو پانګې لټون کوي چې په دغه ولايت کې د کوکنارو د کښت د کمې په درک کولو سره يې چمتو کوي**

د هغه حيرانوونکې پرمختګ په درک کولو سره چې د بدخشان ولايت د خلکو له خوا د کوکنارو په کښت کې منځ ته راغلی دی، د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر د اپريل پر ۳۰ د نړيوالې مرستندويې ټولنې لپاره يو ورکشاپ جوړوي، چې د دغه ولايت لپاره مرسته تر لاسه کړي او د کوکنارو د کښت هغه کمولو ته پايښت ورکړي، چې هلته د کروندګرو له خوا منځ ته راغلی. د دغه ورکشاپ موخه دا ده چې د سرک د جوړولو پروژو د هغه تشديدي کار لپاره پانګه لاس ته راوړل شي، چې د کار ګمارلو لنډ مهاله چانسونه منځ ته راوړي او په اوږده موده کې د بدخشان زيربنا بهتره کړي.

د بدخشان ولايت کروندګرو د دولت د کوکنارو د کمولو د پروګرام په وړاندې ښه غبرګون ښودلی دی: تر کښت لاندي ساحه په دغه ولايت کې تر ۱۳۰۰۰ زياتې ساحې څخه په ۲۰۰۷ کال کې ۳۶۰۰ هکتارو ته را کمه شوه، چې تمه کيږي په ۲۰۰۸ کې به نور د پام وړ کمښت هم منځ ته راشي. د UNODC يوې ارزونې په بدخشان کې د چټک عمل اړتيا په ګوته کړې ده، چې څو تضمين کړي چې کروندګر بيرته د کوکنارو کښت مخ وا نه اړوي.

دغه ورکشاپ په کابل کې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې د دفتر له خوا د افغانستان د محلي حکومت کولو د خپلواک رياست، د کورنيو چارو د وزارت، د نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت او د پارلمان د نشه يي توکو سره د مبارزې د کميسيون په همکاری جوړيږي.

**يونيسف د فارياب کليوالو ته د څښلو پاکې اوبه برابروي**

د فارياب ولايت د بی بی اينه په کلی کې اوس تر ۷۰۰ زياتې کورنۍ هغو پاکو اوبو ته د هغې ژورې څاه د کيندلو له برکته لاس رسي لري، چې د کليو د پراختيا او بيا رغونې د رياست له خوا د ملګرو ملتونو د ماشومانو د پانګې په مرسته کيندل شوې ده.

**د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام** په مرسته د پاليسی او بشري پراختيا مرکز (CPHD) او د پاليسی د څيړنې ملي مرکز (NCPR) به "د بشري پراختيا او د ټولنيزو څيړنو د ميتودونو د ما فوق ليسانس د روزنې پروګرام تر عنوان لاندې يو ګډ پروګرام د ۲۰۰۸ کال د اپريل پر ۲۹ د سه شنبې په ورځ د غرمې له ۱:۳۰ تر ۲:۳۰ بجو پورې د کابل پوهنتون د (CPHD) په مرکز کې پرانيزي.

دا د کابل پوهنتون، د ښووني او روزني پوهنتون، د پولیتخنیک پوهنتون، لیکچر ورکوونکو او د افغانستان د علومو د اکاډمی لیکچر ورکوونکو لپاره یو د مافوق لیسانس روزني ۵ میاشتنی پروګرام دی، چې دغه کسان د بشري پراختیا له موضوعګانو سره په افغانستان کې د پوهنتون په مضمونونو کې د یوې له پامه لویدلي موضوع په توګه بلد کړي. هندي او افغاني لیکچر ورکوونکي به د بشري پراختیا او تولنیزو څیړنو په برخه کې دغه ځوان لیکچر ورکوونکي وروزي.

## د ملګروملتونو د خوراک نړیوال سازمان مطبوعاتی کنفرانس

د ملګروملتونو د خوراک نړیوال سازمان د آسیا د برخی مشر ښاغلی انتونی بانبوری د یو رسمی لیدنی په ترڅ کی دم ګړی په افغانستان کی دی. ښاغلی بانبوری د چهارشنبه په ورځ به دوه بجو او دیرش دقیقو باندی به یو کنفرانس تر سره کړی. په دی کنفرانس کی به د خوراکی توکو د لوړی بیو او د خوراکی توکو د کموالی به اړه خبری اتری ترسره شی.

## یوښتنې او ځوابونه

**بی بی سی:** د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې د کابل د امنیت مسوولیت به افغان امنیتي ادارو ته وسپارل شي، د پرون ورځې پیښې ستاسو په ذهنونو کې کوم ډول انځور جوړ کړ؟

**یوناما:** د پرون ورځې د پیښې په اړه چې موږ کوم قضاوت کولی شو او له هغې څخه څه په لاس راوړلی شو دا دي، چې دا به ډیره ستونزمنه وي چې د هغو کسانو مخه ونیول شی چا چې دا پریکړه کړې چې په دې هیواد کې سوله او ثبات تر اغیز لاندې راولي، موږ چې پرون څه ولیدل هغه د افغان امنیتي ځواکونو له خوا یو مثبت او اغیزناک غبرګون وو. دوي د ولسمشر او هغو نورو بهرنیو دیپلوماتانو په ساتنه کې بریالي وو، چې پرون ورځ یې په نوموړو مراسمو کې ګډون درلود. دوي د نورو وګړو د ژوند له لاسه ورکولو په مخنیوي کې یو خورا مهم او قاطع رول ولوباوه. موږ پر افغان امنیتي ځواکونو او د پرون ورځې پر هغه رول چې دوي د ولسمشر او نورو بهرنیو دیپلوماتانو په ساتنه کې ولوباوه، پوره باور لرو.

دا یوه داسی پیښه ده چې په یوه  عامه غونډه کې وشوه چیرته چې افغانان سره یو ځای شوی وؤ څو د هغو قربانیو یادونه وکړی چې د خپل هیواد د آزادۍ لپاره یې ورکړې دي. د دغه برید له امله نه شو کولای چې په هیواد کې د عمومی امنیتی وضعې په اړوند قضاوت وکړو. دا یو داسې برید وو چیرته چې مونږ ولیدل چې افغاني ځواکونه په اغیزمنه او آرامه توګه کولاي شی دغه شان وضعیت تر کنټرول لاندې راولي. موږ د افغانی امنیتی ځواکونو د هغو هڅو ستاینه کوو چې تیره ورځ یی د لا زیاتو قربانیو د مخ نیوي په برخه کې تر سره کړي. هغه څه چې موږ پرون ولیدل، دا دي چې  افغانی ځواکونه مسولیت په غاړه اخلی او د خپل هیواد، ولسمشر او د خلکو د امنیتی چارو مشر توب کوي.

**نورین تلویزیون:** زه د خپلو سترګو لیدلی حال د پرونی پیښی په اړه بیان وم، نږدی تر یو ساعت پوری امنیتی ځواکونه په دی نه پوهیدل چې د پیښی ځای په ګوته کړی خو په وار خطایی سره ډزی کولې. دویمه برخه زما د پوښتنی دا ده چې د بدخشان په ولایت کې څومره تریاک کرل شوي دي.

**یوناما:** د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او د جرم په وړاندې دفتر د کلنی سروی چی د ۲۰۰۷ کال لپاره ترسره شوی وه د هغه پر بنسټ تیر کال په بدخشان کی ۱۵۲ ټونه تریاک کرل شوی وو، چی د کال ۲۰۰۶ په پرتله چی په کی ۵۰۳ کرل شوی وو، کمه کچه ښایی.

ستاسی د پوښتنی د لومړی برخی په هکله چي د خپلو سترګو لیدلی حال په ترڅ کي د تیری ورځی صحنه مو بیان کړه، آیا دا د حیرانتیا وړ ده چي یو څه شک موجود وو او یو څه بی نظمی وه؟ زه فکر کوم کله چي یوه داسی پیښه منځ ته راځی دا هر چا ته د حیرانتیا وړ وي. خو هغه څه چي تاسی پری پوه شئ او ومنئ هغه د افغانی امنیتی ځواکونو هغه غبرګون دي چي په آرامه او اغیزمنه توګه یې ولسمشر او بهرنی دیپلوماتان وژغورل او د لا زیات زیان مخه یي ونیوله. موږ ولیدل چي دری برید کوونکی د افغانی امنیتی ځواکونو له خوا ونیول شول او د دری نورو په وړاندی پوځي اقدام تر سره شو. هغه څه چي موږ ولیدل هغه د افغانی امنیتی ځواکونو اغیزمن غبرګون وو. موږ باید دا واقعیت ومنو او تایید کړو چي تیره ورځ هغوي ښه دنده تر سره کړله.

**ایرنا:** زه غواړم ستاسو له نظره د دغي پیښي د روانی اغیزو په اړه وپوهیږم. امنیتي وګړي د برید د لیدلو وروسته سره له دی چی هرڅه یی په لاس کی وو خپاره شول، ددی روانی اغیزي پر ټولنه باندی ستاسو له نظره څه دي؟

**یوناما:** زه فکر کوم په دی اړه یو څه توپیر پکار دي. هغه څه چي تاسی تیره شپه په تلویزیون ولیدل چي هغه د جشن تشریفاتی پوځیان وو چا چي د مارش په ترڅ کي غوښتل د هغو قربانیو یادونه وکړی چي افغانانو د خپل هیواد د آزادی لپاره ورکړیدی. هغوي د مراسمو د پرځای کولو لپاره ګمارل شوي پوځیان وو. د هغوي سره مرمي او ټوپکی نه وي. هغوي د باندو (نغاری او ترمپټ) غړول، هغوي پوځی جنګیان نه دي. هغه څه چي د پام وړ دی، دا دی چي تاسو د هغه چا د اقداماتو په هکله پوه شئ چي ولسمشر کرزی او عالی رتبه بهرنی کسان یی ساتل چي په دغه مراسمو کي حاضر وو. په هر لحاظ ټول هغه امنیتی افسران چي وسله یي درلودله او په دی ګمارل شوي وو چي ولسمشر، کابینه او بهرنی مقامات وساتی هغوي په چټکی او آرامی سره خپل غبرګون تر سره کړي چي ولسمشر او بهرنی مقامات وژغوری او د دغه حالت څخه وباسی. او بیا تر دی وروسته د برید کوونکو په مقابل کي خوځښت وکړي چي دوي ډیره ښه دنده ترسره کړیده. دری برید کوونکی نیول شوي او د دری نورو برید کوونکو په مقابل کي پوځی اقدام تر سره شوي نو په دې توګه دغه دنده د هغه امنیتی پرسونل له خوا چي هلته حاضر وو په ښه توګه ترسره شوي. یو تن نه شی کولاي چي د تلویزیون د تصویرونو له لاری د مراسمو د ګمارل شویو پوځیانو په اړه قضاوت وکړي چي د جنګ لپاره یی مسولیت نه درلود خو هغوي دلته د دی لپاره وو چي د افغانانو هغه یاد تازه کړي چي د خپل آزادی لپاره یی ورکړي. دا پوښتنه باید تاسو کړي واي چي داسی کسان باید وغندل شي چي د افغانانو د هغو قربانیو احترام نه لري چي د خپل هیواد د آزادی لپاره یي ورکړیدی.

**د آزادی راډیو:** تاسو د افغان امنيتي اداري د پرون ورځي د پيښي په وړاندي د هغوي د بريالی ځواب ستاينه وکړه. آيا داسي فکر نه کوي چي دا به غوره نه وه که چيري دوي په فعال ډول د دغي پيښي مخنيوی کړی وای؟ ولسمشر خو وژغورل شو، خو موږ دوه لوړ پوړي چارواکي له لاسه ورکړه. آيا داسي فکر نه کوئ چي دا د دي ځرګندوي دی چي نړيواله ټولنه لا په مخه کي اوږده لار لري چي د تروريستی پر ضد وجنګيږي، ځوک چي لا اوس هم ورته ډول بريدونه په مستقيم ډول پر ولسمشر باندي ترسره کوي؟ دا به د ملګرو ملتونو لپاره غوره وي نړيوالي ټولني ته دا وړانديز وکړي، چي د تروريزم سره د جګړي لپاره بايد لا نور ډير څه وکړي.

**یوناما:** تاسي له ما څخه ډير ښه پوهيږي، چي په دي هيواد کي د امنيت او سولي راوستل يو بهيردی، يوه پيښه نه. يو ځوک نبايد د يوي پيښي له مخي په دي هيواد کي پر ټول امنيتي حالت قضاوت وکړي. تاسو يوي ډيری مهمي ټکی ته اشاره وکړه. پرونی پيښه دوه اړخه لري: يو دا چي موږ بايد افغان امنيتي ځواکونو چټک غبرګون ته وګورو، او بل دا چي څه بايد ترسره شوی وای چي د ورته پيښي د رامنځ ته کيدو مخنيو يي کړای واي. موږ په يادو شوو دواړو خواو کي عمل ګورو. يو دا چي موږ د افغاني امنيتي ځواکونو له خوا يو اغيزناک امنيتي غبرګون وليد چي د بي ګناه کسانو د ژوند د لاسه ورکولو مخه يي ونيوله، او بله دا چي موږ اوريدلی چي ولسمشر کرزی د دغي پيښي د ځيرلو غوښتنه کړي، څو وکتل شي چي د دي پيښي په اړه نور څه ترسره کيدلای شي. دا کټ مټ هغه څه دي چي موږ يي پيښيدل غواړو، که چيري موږ په ريښتيا په دي هيواد کي د سولي او ثبات خوندي پاتي کيدلو غوښتونکي يو.

**افغانستان ټايمز:** داسي ويل کيږي چي په پرونی پيښي کي پخواني کمونيستان او روسي پلوه اشخاص ښکيل دي او همدارنګه د دولت لوړ پوړی چارواکي.

**یوناما:** ښاغلی زه فکر کوم چي دا بی بنياده خبري دي.

ډيره ډيره مننه